# د افغانستان اقتصادي پرمختګ

## (خبرپاڼه)

دویم کال - ۸مه ګڼه | پرله‌پسې ۲۲مه ګڼه

نېټه: ۱۴۰۳/۳/۱



په افغانستان کې هره اونۍ په بېلابېلو سکټورونو کې مهم اقتصادي فعالیتونه او پرمختګونه رامنځته کېږي. د افغانستان اقتصادي پرمختګ (خبرپاڼه) همدغو مهمو او وروستیو اقتصادي فعالیتونو او پرمختګونو ته پوښښ ورکوي.

### په دې ګڼه کې لولئ:

**کازان فورم؛ د افغانستان له پاره یې سیاسي او اقتصادي ګټې**

# کازان فورم؛ د افغانستان له پاره یې سیاسي او اقتصادي ګټې



## د کازان فورم پېژندنه:

د (روسیه او اسلامي نړۍ: کازان فورم) شپاړسمه غونډه د ۲۰۲۵ کال د مۍ له ۱۳-۱۸ نېټې پورې د روسیې فدراسیون د تاتارستان جمهوریت په کازان کې ښار کې ترسره شوه.

د کازان فورم لومړنۍ غونډه په ۲۰۰۹ کال کې ترسره شوې وه چې سږکال یې پرله‌پسې شپاړسمه غونډه وه. په یاده غونډه کې له شاوخوا نوي هېوادونو څخه حکومتي مسوولینو، سیاستوالو، سوداګرو، مذهبي مشرانو او د بېلابېلو قشرونو شاوخوا شل زره کسانو ګډون کړی و. د یاد نړیوال فورم اصلي موخه د روسیې او اسلامي نړۍ ترمنځ د اقتصادي همکارۍ زیاتوالی دی.

له افغانستان څخه هم د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ یوه پلاوي ګډون کړی و. په پلاوي کې د صنعت او سوداګرۍ سرپرست وزیر محترم نورالدین عزیزي، د ترانسپورټ او هوايي چلند سرپرست وزیر محترم ملا حمیدالله اخوندزاده او یو شمېر نورمسوولین شامل وو.

## افغانستان ته یې سیاسي ګټې:

کله چې اسلامي امارت واک ته ورسېد، نو له روسیې سره یې اړیکې عادي شوې او روسیې افغان سفارت اسلامي امارت ته وسپاره. په تېرو شاوخوا څلورو کلونو کې د دواړو لوروتر منځ په سیاسي اړیکو کې ډېر پرمختګونه وشول. بېلابېلو وزیرانو او نورو امارتي مسوولینو روسیې ته سفرونه وکړل، خو د اسلامي امارت له راتګ وروسته دا لومړی ځل و چې د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په څېر د اسلامي امارت یو لوړپوړی مسوول روسیې ته رسمي سفر کوي.

روسیې ته د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال رسمي سفر او د کازان په څېر مهمه غونډه کې د محترم ملا صاحب ګډون او بیا د بېلابېلو هېوادونو له مشرانو سره لیدنې ثابتوي چې د ډېرو خلکو هغه باورمات شوی چې فکر یې کاوه افغانستان په سیاسي انزوا کې دی. روسیه د نړۍ یو ستر قدرت دی او اسلامي امارت ورسره اړیکو ته ارزښت ورکوي او هیله لري چې دا اړیکې نورې هم پراخه شي. په وروستیو څلورو کلونو کې د اسلامي امارت اړیکې نه یوازې له روسیې؛ بلکې د منځنۍ اسیا، ایران، چین، د یو شمېر اروپایي هېوادونو په ګډون ډېرو هېوادونو سره پراخې شوې او ګڼو هېوادونو د افغانستان سفارتونه اسلامي امارت ته سپارلي او د اسلامي امارت دیپلوماتان یې منلي دي.

له نورو هېوادونو سره د افغانستان د سیاسي اړیکو ټینګښت او پراختیا د هېواد د اقتصادي ودې او سوداګرۍ له پاره ډېرې مهمې دي.

## افغانستان ته یې اقتصادي ګټې:

د کازان فورم چې د روسیې او اسلامي نړۍ تر منځ د اقتصادي همکارۍ د پراختیا په موخه له تېرو شپاړسو کلونو راهیسې هر کال جوړېږي، د ګډون کوونکو هېوادونو تر منځ د اقتصادي فرصتونو شریکولو او پانګونې جلب او جذب له پاره یو ښه فرصت وي.

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادراخوند په یاد فورم کې د فورم د کوربه هېواد تاتارستان جمهوریت د ولسمشر رستم مینیخانوف، د موردوویا جمهوریت له ولسمشر ارتیوم زودنوف، په اقتصادي چارو کې د روسیې د لومړي وزیر له مرستیال الکسي اویرچوک، په ساختماني او سیمه ییزو پراختیایي چارو کې د روسیې د لومړي وزیر د مرستیال حسنولین مارات




شاکر او یو شمېر نورو مسوولینو سره وکتل.

په دغو ناستو کې په هېواد کې د اقتصادي فرصتونو د موجودیت او په بېلابېلو سکټورونو کې د پانګونې په اړه ټولو اړخونو ته معلومات ورکړل شول. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند ټولو اړخونو ته روښانه کړه چې په افغانستان کې له لسیزو بې ثباتۍ وروسته اوس بشپړ امنیت ټینګ شوی او د پانګونې او اقتصادي همکاریو له پاره ښه زمینه برابره شوې ده.

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال د تاتارستان ولسمشر سره په لیدنه کې څرګنده کړه چې اسلامي امارت متوازن او اقتصاد محوره بهرنۍ سیاست لري او په همدې اساس له تاتارستان سره غواړي چې د انرژۍ، زېربناوو، نفتو او ګازو د استخراج او تصفیې، کور جوړولو، رېل پټلۍ، دوه اړخیزې سوداګرۍ او د پانګونې نورو فرصتونو د پراختیا په موخه اړیکې پراخې کړي.

محترم ملا صاحب د روسیې د لومړي وزیر له مرستیالانو سره لیدنه کې روسي پانګوالو ته بلنه ورکړه چې په افغانستان کې د کانونو په ځانګړي ډول د تېلو او ګازو د استخراج او تصفیې، ساختماني پروژو، ترانسپورټ، سړک جوړولو، رېل پټلۍ او نورو برخو کې پانګونه وکړي. د دې ترڅنګ، د سالنګ دویم تونل جوړولو په څېر په حیاتي پروژو کې د روسیې د پانګونې او همکارۍ غوښتنه هم وشوه.

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال د موردوویا له ولسمشر زودنوف سره په لیدنه کې له افغانستان څخه یاد هېواد ته د صادراتو او له هغه هېواد څخه افغانستان ته د وارداتو په پېلېدو خبرې وکړې او د موردوویا جمهوریت له پانګوالو یې وغوښتل چې په افغانستان کې پانګونه وکړي.

محترم ملا صاحب ټولو هېوادونو او پانګوالو ته د افغانستان اسلامي امارت د همکارۍ او زمینې برابرولو ډاډ ورکړ.

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال سره په لیدنو کې مقابل لوري په افغانستان کې د پانګونې او اقتصادي همکاریو د پراختیا په موخه ژمنې وکړې.

د تاتارستان ولسمشر ژمنه وکړه چې له افغانستان سره د اړیکو د پیاوړتیا په موخه به خپل پلاوي افغانستان ته واستوي. د دغه هېواد د کاماز موټرو شرکت رییس ژمنه وکړه چې افغانستان ته به سفر وکړي او د روسي موټرو د ترمیم او نورو برخو کې به له افغانستان سره همکاري وکړي. د دې ترڅنګ د تاتارستان د کرنې وزیر او نورو مسوولینو له افغانستان سره د اقتصادي اړیکو پراختیا ته چمتووالی وښود.

روسي لوري هم په افغانستان کې د برېښنا، اوبو بندونو، ترانسپورټي پروژو او د شمال-جنوب دهلیز او افغان- ټرانس اوسپنې پټلۍ پروژه کې پانګونې او همکارۍ ته چمتووالی وښود. د دې ترڅنګ یې ژمنه وکړه چې له افغانستان سره به سوداګریز اصول ساده کړي او ګمرکاتو برخه کې به ځانګړې همکاري وکړي او یو روسي پلاوی به د دې مسایلو په اړه د خبرو له پاره افغانستان ته راولېږي. د کرنې سربېره په نورو برخو کې هم د همکارۍ ژمنې وشوې.

د موردوویا ولسمشر او مل پلاوي یې هم له افغانستان سره د سوداګرۍ د پراختیا او څو ډوله صادراتو پېلولو په اړه اراده څرګنده کړه.

په ټوله کې افغانستان د کازان له غونډې ډېره اقتصادي ګټه ترلاسه کړه. مقابلو اړخونو ته په افغانستان کې د پانګونې فرصتونه څرګند شول او په مشخصو برخو کې ترې د پانګونې او همکارۍ غوښتنه وشوه. مقابلو اړخونو په هېواد کې د پانګونې له پاره لېوالتیا وښوده او ژمنې یې وکړې چې په افغانستان کې به په ډېرو برخو کې پانګونه وکړي او اقتصادي همکاري به پراخه کړي.

اسلامي امارت د شویو ژمنو د پلي کېدو هیله لري. اسلامي امارت باور لري چې پانګونه او د اقتصادي همکاریو ټینګښت او پراختیا د سیمه‌ییز ثبات او د سیمې د اقتصادي ښېرازۍ لامل ګرځي او په دې اړه د سیمې د هېوادونو تر منځ همغږي او همکاري کول ډېر مهم دي.